لیکوال: هانس کریستین اندرسن ۲۰۱۷/۰۹/۰۴

ژباړونکی: آصف بهاند

# له ګوګړو سره وړوکې نجلۍ

## (SVOVLSTIKKERNE)

## H. C. Andersen



د کال د وروستۍ ورځې ماښام و او نوی کال هم را روان و. تیاره په غوړېدو وه، واوره ورېده، هوا په ډارونکې بڼه سړه وه. په همداسې سړو او همداسې تیاره کې یوه وړه بېوزلې نجلۍ بې له ژمنیو جامو او بوټو کوځې ته ووته او سر ګردانه روانه شوه.

کله چې له کوره راوتله، داسې یوه جوړه زاړه سوري، سوري بوټان یې په پښو وو چې له موره ور ته پاتې وو او مور یې د ژوند تر پایه کارولي وو. دا بوټان یې په پښو کې دومره لوی وو چې د تګ په وخت کې کړپېدل، خو له دې سره یې د نجلۍ پښې یو څه ور تودې کړې وې، خو کله چې نجلۍ غوښتل په بېړه د دوو لویو ګاډیو له منځ نه تېره شي، بوټونه یې له پښو و وتل او لرې ولوېدل، یو بوټ هیڅ پیدا نه شو او بل بوټ یوه هلک د دې له پاره وتښتاوه چې بیا کله غټ شي او خدای کوم ماشوم ورکړي، بیا به د هغه له پاره زانګو ترې جوړه کړي.

جلۍ پرته له بوټو لوڅې پښې روانه وه او پښې یې له ډېرو سړو نه تکې شنې او سرې اوښتې وې. د جامو د پاسه یې چې د شیانو د ایښودلو له پاره د لوی جب لرونکې څه اغوستې و، د هغه په جب کې یې د ګوګړو څو کوتۍ ایښې وې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

او یو کوټی ګوګړ یې په لاس کې نیولی و، خو په ټوله ورځ کې چا لا یوه کوټی هم نه وه ور نه پیرودلې او حتی یوه نیمکه یې هم نه وه تر لاسه کړې. خوارکوټې جلۍ وږې وه او له سړو داسې ریږدیدله چې د درد او بدمرغۍ ژوندی تصویر ګڼل کیده.

اوږده زرین ویښتان یې چې پر غاړه باندې کړی، کړی را خپاره وو، د واورو دانو سپین کړي وو، خو نجلۍ د دې شیانو په باب فکر هم نه کاوه.

د کورونو له کړکیو نه د څراغونو وړانګې د باندې را وتلې او کوڅه د سرو کړو مرغاویوو په ښکلې بوی ډکه وه. د نوي کال شپه وه او اورلګیت خرڅونکې نجلۍ هم یوازې د همدې شپې په باب فکر کاوه.

د کوڅې په یوه برخه کې دوه کورونه داسې سره څنګ په څنګ جوړ شوي وو چې د یوه کور یوه برخه لږ وړاندې را وتلې وه او د یوې پناځې په ډول یو ځای په کې جوړ شوی و. جلکۍ چې ډېره ستړې شوې وه، په دې پناځې کې داسې کیناسته چې دواړه پښې یې د تنې لاندې پټې شوې. ساړه یې کیدل، سوچ یې وکړ چې کور ته لاړه شي، خو پښیمانه په دې شوه چې د اورلګیت یو کوټی یې هم نه و خرڅ کړی، که کور ته دغسې تللې وای، پلار به یې ښه په مړه خیټه وهلې وای او کور هم لکه د باندې ځای سوړ او تیاره و.

په کور کې هم نه کومه توشکه وه او نه هم کومه بړستن چې پر ځان یې اچولې وای. د کود دیوالونه او دروازه سوري، سوري وو، له سوریو نه باد لکه سندرې چې وایي، پر کور یرغل کاوه. سره له دې چې سوري په زړو شیانو یو څه بند کړای شوي وو، خو بیا هم ساړه باد د کور منځ ته لاره کوله او کور یې سړاوه.

د نجلۍ واړه لاسونه سړو کرخت کړي وو، څومره به ښه وای چې یوه پلته یې لګولې وای او خپل لاسونه یې ورباندې تاوده کړي وای. یوه پلته یې را وایسته، پر ښوی دیوال یې را کاږله، پلته شغ ولګیده، داسې وړه شغله یې درلوده، لکه د وړې شمعې. جلکۍ خپل واړه نازک لاسونه د تودیدو له پاره ورته ونیول.

د سترګو رپ او خیال کې یې ځان د یوې داسې تودې، لویې او ښکلې بخارۍ په اړخ کې احساس کړ چې برونزي پایې یې درلودې او په زړه پورې اور په کې داسې بلیده چې ښنې شغلې یې لکه د الوتونکو مرغانو د وزرونو په څیر خوځیدې او پورته تللې، هغې و انګیرله چې توده او په زړه پورې کوټه له ښنو الوتونکو مرغانو ډکه ده. غوښتل یې خپلې پښې د دې له پاره وغځوي چې تودې شي، خو د پلتې اور مړ شو. خوارکوټې نجلۍ د خیال نه را په خود شوه، له دې سره توده بخارۍ هم ورکه شوه، که ګوري په لاس کې یې سوې پلته ده او بس، نو پوه شوه چې دا یو تش خیال و.

بله پلته یې را وایسته او وېلګوله، کله چې د پلتې رڼا پر دیواله ولویده، د جلۍ په نظر له دیوال نه نازکه پرده جوړه شوه او دې ولیدل چې د تالار په منځ کې یو میز ایښودل شوی او لکه سپینه واوروه یو دسترخوان ور باندې غوړول شوی او د دستر خوان پر سر نازک چینې لوښي لیدل کیدل، د سرې کړې مرغاوۍ نس په نورو خوراکې توکو ډک کړای شوی و او زړه وړونکی بوی ور نه جګیده. سره کړې مرغاوۍ چې په نس کې یې چاړه او پنجه ټومبل شوي وو، نا څاپه له لوښي نه د باندې خیز کړل او په ګوډو قدمونو یې د کوټې له منځ نه ځان جلۍ ته ور ورساوه، جلۍ په ډېرې خوښۍ سره لاس ور وغځاوه چې را وایېخلي، خو ناڅاپه یې لګولې پیلته مړه شوه او د خوارکوټې نجلۍ په مخ کې یوازې یو ډبل ډیوال و او بس.

بله پلته یې ولګوله او بیا یې په خیال کې ولیدل چې د کرسمس تر ښکلې ونې لاندې ناسته ده. دا ونه تر هغې ونې ډېره لویه، ښکلې او ځلیدونکې وه چې دې د تیر کال د کرسمس په جشن کې د یوه شتمن سوداګر د کړکۍ او دروازې له شانه لیدلې وه چې بیشمیره شمونه یې په ښنو څانګو کې بل کړای شوي وو، شاوخوا ځایونه یې روښانه کړي وو او بیشمیره رنګینې پټې او تارونه په کې را ځړیدل چې دې د دکانونواو مغازو د شیشو په شا کې لیدلي وو، وړوکې خوارکوټې نجلۍ خپل وړوکی لاس د هغو په لورې ور وِغځاوه... پلته مړه شوه او په ونه کې د لګیدلو شمونو شغلې پورته لاړې او نورې هم پورته لاړې، دومره پورته چې آسمان ته ورسیدې او خوارکوټې نجلۍ ولیدل چې له ټولو ډیوو نه ځلیدونکې ستورې جوړ شول. نا څاپه یو ستوری لاندې را ولوید او په آسمان کې یې یوه اوږده نوراني کرښه وایسته. نجلۍ له ځان سره سوچ وکړ:

اوه! یو بل تن ومړ.

نیا یې چې دا ډېره ورباندې ګرانه وه، کله چې ژوندۍ وه، دا یې ورته ویلې وو چې:



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کله چي يو ستوری له آسمان څخه را لوېږي، يو تن خدای ته ورځي.

جلککۍ له سرو نه په کرختو لاسونو بله پلته پر ښوی ديوال راکش کړه، بيا ټول ځايونه روښانه شول او جلۍ خپله نيا وليده، نيا يې په مهربانه او نوراني څېرې ورته کتل. نجلکۍ په جګ آواز سره ور غږ کړل:

نيا جانې! ما هم در سره بوزه!

پوهيږم چې ته هم د دې پلتې له مړه کيدو سره لکه د بخارۍ تود اور، د کرسمس ونه او سرې کړې مرغاوۍ غوندې ځې او ما يوازې پرېږدې.

نيا يې له خندا ډکه خولګۍ، ورو ـ ورو لرې کيدله، جلۍ ور چغې کړلې:

نيا جانې مه ځه... مه ځه...!

جلۍ په ډېره بيړه، په کوټی کې ټولې پلتې را وايستلې او وې لګولې، غوښتل يې چې د پلتو په روښانولو سره نيا راستنه کړي. پلتې په داسې حيرانونکې بڼه وځليدې او ټول ځايونه يې لکه د ورځ په څير رڼا کړه چې جلۍ لا په خوب کې هم نه وې ليدلې. هغې خپله نيا هيڅکله داسې ښکلې او داسې آرامه نه وه ليدلې. نيا خپله لمسۍ په دواړو لاسونو پورته کړه، دواړه هوا ته پورته شوې، پاس او لا پاس لاړلې او هلته ورسيدې چې نه ساړه وو او نه لوږه، نه وهل وو او نه هم در به درې.. اوس هغوی له خدای سره وې.

سبا سهار په سهارنۍ سړې هوا کې، د خوارکۍ جلۍ پر شونډو پسته موسکا خپره وه، د کوڅې په څنډه کې يې يوه ديوال ته ډډه لګولې وه، هغه د زاړه کال په وروستۍ شپه کې يخ وهلې وه.

د نوي کال په لومړۍ ورځ کې لمر د هغې وړې جلۍ پر بې حرکته او ساړه مړي ځليده چې له سوځيدلو پلتو سره هلته ناسته وه. لارويان چې په ګرنديتوب سره هلته تيريدل، د هغې په ليدلو سره يې سرونه ښورول او ويل يې: خوارکوټې نجلۍ!

غوښتل يې ځان تود کړي.

خو هغوی کې هيڅ يوه هم دا سوچ نه شو کولای چې وړې نجلۍ څه ښکلي شيان وليدل او په څه پرتم له خپلې نيا سره د نوي کال د خوشالتيا هرکلي ته ورغلې وه.

پای

منبع:

H.C.ANDERSEN, EN EVENTYRLIG DIGTER,2004, 96-97-98 S


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ